

# د خپل پاملرنه کوونکي ماشومانو او د پاملرنې پرېښودونکي ماشومانو سره زمونږ ژمنه

دا ژمنه د وعدو یوه مجموعه ده. په دې کې هغه شیان شامل دي کوم چې پاملرنه ترلاسه کوونکي یا پاملرنه پرېښودونکي ماشومان زمونږ څخه غواړي.
مونږ ژمن یو چې ترخپل وس سره سم تاسو ته ترټولو غوره مرسته او کومک وړاندې کړو.

د مرستې وړاندې کولو لپاره به مونږ:

- ستاسو سره څرګند او رښتینې یو
- په تاسو یقین او باور لرو او تاسو به هڅوو چې د خپل وسه پورې ترټولو غوره تن جوړ شئ
- ستاسو خبره اورو او ستاسو درناوی به کوو او له تاسو سره به همکاري کوو چې ستاسو په نظر ځان پوهه کړو
- ستاسو د مرستې د هر هغه پړاو څخه به تاسو خبروو کوم چې موجود وي او تاسو به د خپل استحقاقونو څخه خبروو
- ستاسو سره په معلوماتو، مشورې، عملي او اقتصادي مرسته کې کومک کوو او له تاسو سره به احساساتي مرسته کوو او د هغه تن نوم به درته درکوو د کوم سره چې تاسو اړیکه نیول غواړئ
- ستاسو لپاره یو ښه او مناسب کور لټوو
- ستاسو د هویت درناوی او احترام کوو، تاسو به هڅوو چې یو ښه انفرادي تن جوړ شئ خو ولې تاسو به مختلف کوو نه
- ستاسو سره مرسته کوو او هیڅکله به هم ستاسو قضاوت نه کوو
- تاسو ته د یو په یو خبرو کولو موقع درکوو
- ستاسو سره د ژوند په مهارتونو زده کولو کې مرسته او کومک کوو او چې یو دوامدار اتل جوړ شئ
- ستاسو شکایتونه اورو او په هغې به اقدامات کوو
- ستاسو سره په خپل نظر وړاندې کولو کې مرسته کوو
- تاسو ته موقعې درکوو چې په مثبتې فعالیتونو کې برخه واخلئ
- ستاسو سره مرسته کوو چې د هغه نورو ماشومانو او ځوانانو سره لیدنه وکړئ د کومو چې پاملرنه کیږي یا کوم چې پاملرنه پرېږدې
- ستاسو سره مرسته کوو چې په خپلواکه توګه اوسیدنه زده کړئ او د خپل راتلونکي لپاره پلان جوړ کړئ
- ستاسو سره مرسته کوو چې د مناسب او ښه رضاعي ساتونکي سره پاتې شئ
- د کورنۍ سره د اړیکې نیولو په اړه ستاسو نظر ته غوږ ږدو او که ممکن وي نو د هغې په عملي کولو کې به درسره مرسته کوو
- د هغه ماشومانو او ځوانانو سره مرسته کوو چې د څه وخت لپاره په پاملرنه کې و یا یې پاملرنه پرېښودلې او د هغه کسانو مشاور جوړ شوي کوم چې په پاملرنه کې نوې دي.

LS386277 - Pashto